مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لَوَنگی جبارخیل

۲۰۲۲/۰۳/۲۴

# زمـــا پـرون او نـــن سبا کـې تـه یې

زمـا پــه هر پل، هره سا کي تـه يې
په کور او کلي پـه صحـرا کي ته يي

ما وې چي گورم دې، په خپلو سترګو
په خوب په ویښه، په ریښتیا کي ته يي

مخ شـوم لـه ښـو له بـدو ډېر ځلي زه
هر خـوا مـي وکـتـل، وفـا کـي تـه يي

چارچاپېر، وړاندي وروسته ګورمه تا
زمـــا پــرون او نـــن سبا کـي تـه يي

ټـول فـکـر ذکـر مـي تـړلی لــه تا
پـر لار په ښار او په دوعا کي تـه يي

پـه رنـه ورځ مـي دې لـيـدل ارمان و
هـم پـه تـيـاره هم پـه رنـا کي تـه يي





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ